خالدهادي حيدري ۲۰۱۰/۱۲/۵

# د هندپه جيلونوکي دافغان بنديانوکرېږي به څوک واوري؟

دتيرو دوه نيمو لسيزو راهسي د هندوستان په انسان خوړونکو زندانونو کي په لسګونه افغانان د ژوند تر تولو ترخي شپي تيروي او ځينوئي په همدې زندانونو کي ژوندله لاسه ورکړی خو افغان دولت ئي په لوی لاس پر پوښتنه سترګي پټوي .

موږته تازه رارسيدلي راپورونه ښئي چي د کرزي په دولت کي ددغو بنديانو کورنيواو خپلوانو نژدې يوه لسيزه د افغان دولت هره دروازه ټکولي خو هيڅ څوک پيدا نسو چي ددغه زندانيانو غم وخوري.

دغه افغانان چي اکثره ئي د ۱۹۸۶ او۲۰۰۳ کلنو ترمنځ په جنائي جرمونو اوبيلابيلو تورونواو شکونو د راجستان ايالت د مرکز جئ پور ،جودپور ، بيکانير زندانونوهمدا رنګه د اتراپرديش د نوي او زاړه ډيلي په سنټرل جيلونو ددې ترځنګ دبمبئي ،سيرينګر او دشملي په مرکزي زندانونو کي اچول سوي دي چي دهندي دولت لخوا هر يوه ته د يو کال څخه تر اووه کلونو پوري سزاوي اورولي چي دوی تولو دغه ټاکلي مودې پوره کړي ان ددغو بې سرپرستو افغانانوڅخه ئي ځينو د خپلو سزاودپوره کيدو ۱۵ کاله اضافه په زندانونو کي تير کړي دي او اوس په بيلابيلو ناروغيو مبتلا دي .

دغه زندانيان د بغلان ، لوګر ، ميدان وردګ ، پکتيا ، باميان ، کندهار او هرات ولايتونو اوسيدونکي دي چي زموږدمعلوماتو له مخي په ډېر بد او ځورونکي حالت کي يوازي ددې لپاره هره ورځ د زندان دروازې ته سترګي په لاره پاته وي چي د دوی پوښتني او ګروړني ته به دافغانستان دولت راځي . خو دالس کاله وسوه چي د ولسمشر کرزي دفتر ، دافغانستان پارلمان ، د بهرنيوچارو وزارت او په هندکي دافغانستان سفارت توله په دې خبر دی چي دغه افغانان په دې زندانو کي تر يولوی بشري جنايت لاندي شپې سبا کوي . خو هيڅ چا هم ددوی د خلاصون غوښتنه دهغه هندي دولت څخه وه نه کړه چي د دوستی ناري ئي د هر افغان چارواکي له خولي راوزي .

دنړيوالو بشري قوانينو په رڼا کي ددولتونو ترمنځ د بنديانو راکړه ورکړه دبهرنيو چارودوزارتونو او سفارتونو په ساده غوښتنو ترسره کيدای سي په داسي حال کي چي دهند او پاکستان تر منځ اوږدې جګړيزي دښمنی په مخکي پرتي دی بيا هم يو دبله زندانيان تبادله کوي خو افغان دولت دهنددوستی دونه اغيزمن کړی دی چي دخپلو اتباعو غوښتنه هم ورته شرم ښکاري .په تيره بيا په هند کي د افغانستان د سفارت په نامه د هندي اجيرانو په مرکز کي خو داسي غوښتنه د کفر په معنا بلل کيږي .

زموږ دمعلوماتو لمخي په دغو زندانيانو کي يوازي يولس کسه د بغلان ولايت د نهرين ولسوالی اوسيدونکي هر يو ميرويس دنسيم ګل زوی ،عبدالغفور د عبدالغني زوی ، ګلزمان ،عبدالحميد دمحمدرحيم زوی ، تازه خان ،خيرالدين دحاجي سلام زوی ، محمد ايوب د عبدالقادر زوی ، حمزه محمد دصالح محمد زوی ،سعيد د محمدظاهر زوی او بازمحمد دمحمداعظم زوی دي چي دکشمير د لياري هندوستان ته په ۱۹۹۵ ميلادي کال کي دمزدورئ لپاره اوښتل چي هندي چارواکو نيولي دي .


په هند کي زموږ همکارانو د شملي په مرکزي زندان کي دهغه دروافغان بنديانو يونس ،کريم الله او محمد الله سره ليدلي چي ددوی په وينا دوه دکندهار بل د هرات ولايت اوسيدونکي دي او دولس کاله د خپله کوره رابيل سوي او په شمله کي دبند شپي تيروي . يونس زموږهمکار ته ويلي چي دکورنی هيڅ احوال نه لري او نه ئي هم کورنی دده په اړه معلومات لري نوموړی وائي چي ګومان کوي چي کورنی ئي مړشميرلی يم ، ديونس په وينا چي ديوې لور پلار دي او نژدې دولس کاله وړاندي د قتل په يوه دسيسه کي زنداني سوی نوموړي زموږ همکارانو ته د محاکمي هغه لاسوند ښولی چي دبند سزا ئي اووه کاله مخکي پوره کړې ده خو لا هم دافغان چارواکو دبيغوری لکبله په زندان کي بند پاته دی .

په ۲۰۰۳ ميلادي کال کي په لومړي ځل يو افغان چي دامريکا د ټکساس په ايالت کي اوسيږي په هند کي دافغان بنديانو سره په هغو تورو زندانونو کي وکتل . او وروسته ئي ددوې دخلاصون لپاره په هند کي دافغانستان دسفارت سره اړيکي ټنګي کړې او دهغه وخت سفير مسعود خليلي دخپل ستمي تعصب لمخي دغه موضوع په لوی لاس همداسي نيمګړې پريښوده . کله چي نوموړي افغان يوځل بيا په ۲۰۰۴ او ۲۰۰۵ کلونو کي ددغه زندانيانو ځورونکی حالت وليد نو په کابل کي ئي دافغانستان د دولت ، ولسي جرګې او نورو اړوند اورګانونو ته عريضي وکړه . چي بيلاخيره د ۱۳۸۷ هـ کال دحمل دمياشتي په ۱۹ مه نيټه ئي دولسمشر کرزي له دفتر څخه دبهرنيو چارو پر وزارت د ۱۶۷ نمبر مکتوب په صادرولو دغه موضوع راپورته کړه . کله چي وزارت نوموړې موضوع



افغان جرمن آنلاين تاسو په درنښت همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکني د ليکنيزې بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ

په هند کي افغان سفارت ته د همدې کال (۱۳۸۷ ) دچنګاښ په ۲۲ مه د ۲۱۰۱ نمبر مکتوب له لارې ولیږل هغه وخت په هند کي مخدوم رهین سفیر و نوموړي نه یوازې چې د بهرنیو چارو وزارت او کرزي ددفتر مکتوبونو ته ارزښت ور نه کړه حتی د نوموړي افغان دلیدلو څخه ئې ډډه وکړه . او دخپل قونسل له لارې ئې دا موضوع په سفارت کي دننه څو ورځې هاخوا دیخوا کړه خو هیڅ اقدام ئې ونه کړ . ځکه نوموړی ته همیش تر افغانانو ډیري دهندګټي مهمي دي


د افغانستان اسلامي جمهوریت | جمهوری اسلامی افغانستان
د جمهوری ریاست د مقام د دفتر ریاست | ریاست دفترمقام ریاست جمهوری
شماره: ۱۶۷
تاریخ: ۱۹ حمل ۱۳۸۷

به وزارت محترم امور خارجه!

بدینوسیله توجه آن اداره محترم را در رابطه به شکایت در مورد وضعیت زندانیان افغان در کشور هندوستان جلب نموده، اینک ضم این مکتوب اصل نامه واصله به آدرس ایمیل جلالتمآب رئیس جمهور که حاوی پیشنهاد بررسی وضعیت زندانیان در ایالات مختلف آنکشور است به آن اداره محترم ارسال شد.

امید در رابطه اجرأت لازم نموده این اداره را نیز در جریان گذارید.

از توجه تان در زمینه قبلاً سپاس گزاریم.

با احترام

محمد عمر داودزی
رئیس دفتر مقام عالی ریاست جمهوری

نوموړي افغان موږ ته په ټیلفوني خبرو کي وویل چي تر هغه وروسته دافغانستان ولسي جرګې ته د موضوع په اړه عاريض سوم . او د همدې کال (۱۳۸۷) دلیندۍ دمیاشتي پر ۲۱ مي د ولسي جرګې دبین المللي امورو دکمیسیون څخه ۳۳-۴۵۶ نمبر مکتوب په صادرولو سره دغه موضوع یوار بیا دبهرنیو چارو وزارت ته ولیږل او دبهرنیو چارو وزارت یوځل بیا دغه موضوع په هند کي افغان سفارت ته ولیږل خو داچي رهین مخدوم دپښتنو سره ځانګړی تعصب درلود نو دغه موضوع ئې همداسي بي ارزښته وګڼل .

کله چي مو دا موضوع په نیویارک کي د بشردحقوقونو نړیوالي اداري (امنستي انټرنشنل ) سره شریکه کړه نو په هکله ئې په دغه اداره کي دجدي پلټونو بحث راپورته سو. دبشر دحقوقو نړیوال سازمان وائي که چیري په رشتیا په هندي زندانونو کي دنوموړو افغانانو سره همدا برخود روان وي نو دهند دحکومت تر څنګ دافغان دولت له لوري رهین مخدوم او مسعود خلیلي به هم دبشري حقوقونو څخه په سرغړونو کي ښکیل راووځي . په هند کي دبشر دحقوقو یو فعالي اغلي میناکیشي په بمبئ کي موږ ته وویل چي دغه موضوع اوس له نژدې تعقیبوي .
ها خوا موږ ته د نوموړي زندانیانو څخه یوه ویلي چي په څو واري دوئ خپله هم مخامخ په هند کي د افغان سفارت سره اړیکي نیولي او دنظامي اتشي دعباسي په نامه یو کس سره ئي په سفارت کي په وارو وارو خبري کړي او دخپل برخلیک په اړه ئي دمرستي غوښتنه ځیني کړي خو دوی وائي چي نوموړي ددوی په خبرو غوږ ندی نیولی .

دجئ پور دزندان یو افغان زنداني چي دبامیان ولایت اوسیدونکی دی بیاموږ ته ویلي چي دری کاله وړاندي هغه دوه پنجشیران چي ددوې سره یوځای بندیان و د یو شمیر کسانو لخوا چي خانونه ئې دافغان سفارت کارکونکي بلل دپیسو په بدل کي خوشي سول داچي دوئ هیڅ نوعه مالي ملاتړ نه لري او نه ئي هم دکورنی څخه دلته څوک راتلای سي نو تر اوسه همداسي بي برخلیکه پاته دي .


دافغانستان اسلامی جمهوریت ملی شورای
ولسی جرګه
دنړیوالو چارو کمیسیون
شورای ملی جمهوری اسلامی افغانستان
ولسی جرګه
کمیسیون امور بین المللی
National Assembly of Afghanistan
Wolesi Jirga
International affair commission
شماره: ۳۳-۴۵۶
تاریخ: ۲۱/۹/۱۳۸۷
series:
Date

بمقام وزارت امورخارجه جمهوری اسلامی افغانستان !
با تقدیم ا حترامات !

کمیسیون اموربین المللی در جلسه مورخ / 20 / 11 /1387 خویش گزارش قونسل افغانستان دردهلی جدید را مورد مطالعه قرارداده .با ابراز تشکر از جناب محترم عباس بصیر که برای اولین بار توانسته از زندانیان افغان در ایالات های پنجاب ، راجستان و سرینگر آنکشور بازدید و طبق گزارش به تعداد 8 تن از اتباع افغانی به اتهام ورود غیر قانونی وحمل اسلحه از 13 سال بدینسو درآن کشور محبوس و هنوز سر نوشت شان از طریق محاکم انکشور تعین نگردیده است .
کمیسیون از آنمقام میخواهد تا با درنظر داشت قوانین دولتین در امر تعین سرنوشت محبوسین متذکره با مقامات هندی وارد مذاکره جدی شده ، از نتیجه این کمیسیون را درروشنایی قراردهند.
از همکاری های آن وزارت صمیمانه سپاسگزاریم .

بالاحترام
محمد نور اکبری
منشی کمیسیون امور بین المللی

Address:Darulaman Rood, National assembly
Tele # (+93) 752016747
آدرس : سرک دارالامان شورای ملی
تیلفون : (+93 )752016747


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

کله چي مو په افغانستان کي د ولسمشر کرزي دویاند وحید عمر څخه په دې هکله پوښتنه وکړه هغه ددې موضوع څخه ناخبري وښوده او وویل چي تاسي په دې هکله د بهرنیو چارو له وزارت سره اړیکي ونیسې .
ددې تر څنګ مو دوه ځله په هند کي پخواني سفیرداطلاعاتو کلتور اوسني وزیر رهین مخدوم سره اړیکي ټنګي کړې خو هغه پرموړد ټیلفون اړیکه بنده کړه باید دې ښاغلي ته ووایو چي دټیلفون په بندیدو دا موضوع هیڅکله نه پټیږي .

کله چي مود افغانستان د مشرانو جرګې د شکایتونو د اورېدلو کمېسیون مشر ډاکتر زلمی وپوښتی نو هغه وویل :دوه کاله مخکي چي د مشرانو جرګې په تیره دوره کي د شکایتونو اورېدلو کمېسیون مشر وم، یوشمیر کورنیوله ملي شورا څخه په هندکي دخپلو خپلوانو درااننتقالیدو غوښتني درلودې ، موږ د بهرنیو چارو وزارت چارواکي راوغوښتل، هغوی موږ ته وویل چي موږ به په هند کي خپل سفیر ته لارښوونه وکړو او په هغه وخت کي هم دوی ته د افغان ولسمشر حامد کرزي له خوا حکم راغلی وو او دوی ته یې ویلي وه، چي دا موضوع وڅېړي او هغه کسان چي لس دولس کاله کیږی زندانیان دي او د بند په اړه یې اسناد هم نسته، د هند له حکومت سره دي په تفاهم دغه زندانیان را انتقال کړي.
ښاغلي زلمي موږ ته وویل چي هغه وخت د بهرنیو چارو وزارت چارواکو موږ ته په همدې خبره ډاډ راکړ، له بده مرغه چي نه بیا وزارت او نه د وخت سفیر په دې اړه څه وکړل هغه وخت د هند سفیر د اطلاعاتو او کلتور اوسنی وزیر سید مخدوم رهین وو.
داکټر زلمي زیاته کړه چي له نیکه مرغه اوس رهین مخدوم په افغانستان کي دی او راغواړو یې پوښتنه به ځني وکړو، موږ داسي فکر کوو چي د ولسمشر حکم به ده مطالعه کړی هم نه وي.
د ولسمشر حکم د اساسي قانون حیثیت لري، دا چي ولي نه دی اجراسوی دا پوښتنه به هم کوو.

خو د بندیانو ځینو کورنیوبیا د ډاکټر زلمي دخبرو په تړاو موږ ته ویلي چي دمشرانو جرګې ته تر اوسه په دې اړه کوم چارواکی ندی راغوښتل سوی اویوازي پارلمان د مکتبونو له لاري دا موضوع دبهرنیو چارو وزات ته لیږلې وه . د بندیانو خپلوال دافغانستان پارلمان په دې ګرم بولي چي دې موضوع ته دځینو سیاسي او ژبني ناندریو په چوکاټ کي ګوري . حال دا چي په هند،ایران او پاکستان کي پر افغان بندیانو لوی بشري جنایت روان دی .

نژدې یوه نیمه میاشت کیږي چي موږ پر دې موضوع څېړنه کوو او په هندي زندانونوکي د افغان بندیانو څخه مو د هغوې دکورنیو د څرک معلومولو په موخه په هیواد کي بیلابیلو سیمو ته خپل همکاران ولیږل . په پایله کي موداسي کورنۍ وروسته تر زیاتو ګرویږونو وموندلې چي خپل خپلوان ئې څه باندي شل کله مخکي حق ته سپارلي بللي ول .کله چي مو ددغو بندیانو کورنیو ته دهغوی د مړو بللو دوستانو د بیا راژوندي کیدو زیري ورکړ ترځنګ ئې په نوموړو کورنیو کي د یو نوي ویر لړۍ پیل سوې ده . اوس دغه کورنۍ هره ورځ د خپل دوستانو د راتلو شېبې شمیري . خوترځنګ ئې دافغانستان ددولت څخه غواړي چي په دې هکله دي ژر تر ژره کوټلي اقدامات وکړي ترڅو دغه افغانان خپل هیواد ته له ډپلوماتیکو لیارو را انتقال سي اوهم د مسعودخلیلي او رهین مخدوم د محاکمې غوښتنه کوي .
له زیاتو هڅو سره سره په دې وه نه توانیدو چي په هند کي د اوسني افغان سفیر ډاکټر ننګیالي طرزي سره اړیکه ټنګه کړو

بل خوا د تورو تمبو ښاته افغان بندیانو پر افغان مطبوعاتو ږغ کړی چي دانساني اوافغاني احساس لمخي دغه موضوع تر نړیوالو غوږونو ورسوي ځکه دشمالي ټلوالي دهندی اجیرانو اوجنګي جنایت کارانو په شتون کي افغان دولت دا لس کاله د دوئ ږغ وانه ورید .
په داسي حال کي چي افغان دولت په بهرنیو هیوادو کی له لویه سره د خپلو اتباعو په ساتنه او مرسته کي په پرلپسې ډول پاته راغلی ، په پاکستان او ایران کي دافغان مهاجرو زوروني او په ایران کي د افغان بندیان مخامخ په عامه اعدامول ئې هغه عیان پیښي دي چي بیانولو ته ئې اړتیا نه لیدل کیږي چي په ټولو کي ئې افغان دولت لاس تر زني تماشا ته ناست و او دی .
داچي ددغه بندیانو ږغ ته څوک مثبت جواب ویلای سي ؟ او ترځنګ ئې دافغان دولت په دې پخ عکس العمل مو دافغانستان د چارو شنونکی نامتو لیکوال او ژورنالیست عبدالباري جهاني وپوښتی هغه په دې هکله را ته وویل چي ((په اوسني وخت کي ددې په ځای چي ددولت څخه غوښتنه وسي باید افغانان خپل ږغ دمطبوعاتو له لاري تر نړیوالو ورسوي ترڅو ملګري ملتونه او نوري اړوند اداري ئې په هکله اجرات وکړي . اوس خو نه دولت ،نه پالمان او نه هم سفارتونه د افغانستان نمایندګي کولای سي ځکه ټول د بهرنیو دولتونو استخدام سوي اشخاص وربانديٍ واکمن دی تر افغانانو مخکي ورته دنورو ګټي مهمي دي ښاغلی جهاني زیاتوي چي ښکاره مثال ئې د ایران سره دولسمشر کرزي هغه ژوري اړیکي دي چي هره میاشت په بوجیو ډالر په شخصي ډول ورته رالیږي بیا هم دئ دافغان بندیانو داعدامونو مخه نسي پرې نیولای ځکه هغه دده غوښتني ته اصلاً اهمیت نه ورکوي داخو معلومه ده


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

چي هیڅکله د نوکر په خوله بادار اجرات نه کوي ددې ترڅنګ لوی څارنوالي ، دولت او پارلمان په وارو وارو په ګونتنامو کي دافغان بندیانو په هکله غوښتني راپوته کړه چي هیڅ چائې خبري ته ارزښت ورنه کړ )).
کله چي مو په حقوقي چارو کي پوه د افغانستان د نومیالي لیکوال ډاکټر روستار ترکي څخه په دې اړه وپوښتل چي که دولت دښاغلي جهاني په خبره ناتوانه وي ددې موضوع حقوقي اړخ او حل لاري به څه وي ؟ ډاکټر رستارترکي را ته په تیلفوني خبرو کي وویل چي ((دغه موضوع دوه اړخه لري چي یو ئې سیاسی اړخ اوبل ئې حقوقي اړخ دي په حقوقي اړخ کي خو لومړي هند هیڅ حق نلري چي دغسي یو تیری دی وکړي او دلته افغانان باید سره ټول سي، ودریږي او په هند کي داسي یو وکیل چي د هند دجزا په قانون، مدني قوانینو او اساسي قانون پوه وي ونیسي ترڅو دافغان بندیانو دغه مسله د محاکمو له لیاري حل کړي او په سیاسي برخه کي دافغانستان دبهرنیو چارو وزارت مسولیت لري چي په دیپلوماتیکو لارو خپل فشارونه پر هند وارید کړي تر څو دواړه اړخونه یوځای یو پرکنده حل لاره ایجا دکړي )).
ښاغلي داکټر رستارترکي په وینا دا معضله یوازي په هند کي نه بلکې په پاکستان ، ایران او نورو هیوادو کي هم روانه ده او دا کار دمطبوعاتو او عادي افغانانو ملاتړ ته اړتیا لري تر څو په بهر کي دافغانان ژوند ددغسي ناخوالو وژوغورل سي .
ها خوا په هند کي پرون یو افغان بندي مور. ته دنوم او ځای دنه ښودلو په شرط په تیلفون کي ویلي چي دلته په زندان کي دغه افغانان دژونده دونه نا امیده دي چي ان اوس ئې دخپلو کورنیو دغړو نومونه له یاده وتلي ، له یوې خوا نژدې ۲۵ کاله دخپلو دوستانو څخه ورک دي له بلي خوا دهند په زندان کي د خپلو سزاو دپوره کیدو باوجود کلونه کلونه د تورو تمبو شاته پراته دي ، نوموړي په ځانګړې ډول له افغان ولسمشر څخه غوښتنه کوي چي که په ریشتیا دخپلي کورنی دغړو سره مینه لري نو زمور. او زمور. دکورنیوغم دي هم وخوري .

پای


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له مور. سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ